مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۴۳** (از ۳۰ عقرب الی ۷ قوس ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

- مقدمه ........................................ ۲

## اقتصادي وضعيت: د افغانۍ ارزښت او پانګونه

- په تېر یوه کال کې د افغانۍ ارزښت........................................ ۴
- د افغانۍ ارزښت ولې کمېږي؟........................................ ۵
- د پانګونې وضعیت........................................ ٦
- د پانګونې د کمېدو لاملونه........................................ ۷

## افغانستان و وضعیت مبارزه با مواد مخدر

- تولید مواد مخدر در افغانستان 2001-2015........................................ ۹
- نارکو تروریزم (تریاک تروریزم)........................................ ۱۰
- خاک مساعد برای کشت گیاه مرگ........................................ ۱۱
- عایدات مواد مخدر در افغانستان........................................ ۱۲
- فساد اداری و مبارزه با مواد مخدر........................................ ۱۲

## مقدمه

د هېواد په کچه د نفتي او نورو بېلابېلو توکو د بیو لوړېدل، په بې‌ساري ډول د افغانۍ ارزښت راټیټېدل او د هېواد مخ په ځوړ اقتصادي وضعیت، هغه اندېښنې وې چې څو ورځې وړاندې یې د ولسي جرګې غړي د یو شمېر چارواکو استجواب کولو ته اړ ایستل.

د ملي وحدت د حکومت له تشکیل راوروسته په تېر څه باندې یوه کال کې، د سیاسي او امنیتي ننګونو ترڅنګ، د هېواد اقتصادي وضعیت هم په خورا ناسم لوري روان دی. د افغانۍ ارزښت ورځ تر بلې کمېږي او په هېواد کې د پانګونې کچه مخ په ټیټېدو ده. خو دا چې د افغانۍ د ارزښت راټیټېدو او د پانګونې د کچې راکمېدو لاملونه څه دي، په دې تحلیل کې پرې شننه او څېړنه شوې ده.

د تحلیل په دویمه برخه کې، په افغانستان کې له نشه‌یي توکو سره د مبارزې د وضعیت په اړه لولئ. د ناامنیو، بې‌وزلۍ او اداري فساد ترڅنګ، نشه‌یي توکي هم د افغانستان له سترو ستونزو بلل کېږي. که څه هم له نشه‌یي توکو سره د مبارزې په برخه کې د افغانستان پر حکومت نیوکې مخ په زیاتېدو دي؛ خو د کورنیو چارو وزارت تېره اوونۍ وویل، چې په روان کال کې یې په دې برخه کې پام‌وړ لاسته راوړنې لرلې دي. د دغه وزارت چارواکي وایي، چې د روان کال په اتو میاشتو کې یې 100 ټنه نشه‌یي توکي کشف کړي او 1876 قاچاق‌وړونکي یې نیولي، چې له دې ډلې 227 تنه یې ستر قاچاق‌وړونکي دي.

د ملګرو ملتونو له جرمونو او نشه‌یي توکو سره د مبارزې اداري یا UNODC په وروستي راپور کې هم راغلي، چې سږ کال په افغانستان کې د کوکنارو د کښت او د نشه‌یي توکو د تولید په کچه کې کموالی راغلی. خو د دې کچې په راټیټېدو کې هم د فصل خرابوالي رول لرلی او د کوکنارو د کرکیلې او د نشه‌یي توکو د تولید او قاچاق پر ضد د نړیوالې ټولنې له خوا په تېرو کلونو کې د ملیاردونو ډالرو له لګښت سره سره، په دې برخه کې کوم بنسټیز کار نه دی شوی.

د دې ترڅنګ، په نشه‌یي توکو د روږدو کسانو د درملنې په برخه کې هم له زیاتو لګښتونو سره سره، د هېواد په کچه د روږدو کسانو شمېر د کمېدو پر ځای ورځ تر بلې زیاتېږي، ان تر دې چې د پلازمېنې کابل د ځینو سیمو په واټونو کې د ښځو او ماشومانو په ګډون یو زیات شمېر روږدي کسان لیدل کېږي او د نشه‌یي توکو پېر او پلور کېږي؛ خو حکومت یې په اړه ګام نه دی اوچت کړی. د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د خپرنیزې څانګې شننې او څېړنې لولئ.

# اقتصادي وضعیت: د افغانۍ ارزښت او پانګونه



د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو څه باندې یو کال وروسته د هېواد اقتصادي وضعیت پر هغه لوري نه دی روان، چې د دغه حکومت مشرانو یې د ټاکنو پر مهال ژمنې کړې وې. د آسیا فاونډېشن د یوې نوې سروې له مخې، د ۵۸ سلنه افغانانو په اند، هېواد د امنیت، اداري فساد، ښې حکومتولۍ او اقتصاد په برخه کې په ناسم لوري روان دی. د ډېری هېوادوالو په اند، هېواد ته ورپېښې لومړنۍ څلور سترې ننګونې ناامنۍ، اداري فساد، وزګارتیا او خراب اقتصادي وضعیت او دغه راز خلکو ته ورپېښې څلور سترې ستونزې بې‌کاري، بې‌سوادي، خراب اقتصادي وضعیت او د لوړو زده‌کړو د فرصتونو کمښت دی[1].

په اقتصادي برخه کې، له څه مودې راهیسې ورځ تر بلې د افغانۍ ارزښت هم د ډالر په مقابل کې خپل ارزښت بایلي او پانګونه هم په روان کال کې د نورو کلونو په پرتله کمه شوې ده. دا چې ولې د افغانۍ ارزښت او په هېواد کې د پانګونې کچه راټیټه شوې، دلته پرې څېړنه کوو.


[1] See online: http://asiafoundation.org/publications/pdf/1558

## په تېر یوه کال کې د افغانۍ ارزښت

کله چې د ۲۰۱۴ کال په اپرېل میاشت کې د ولسمشریزو ټاکنو لومړۍ پړاو ترسره کېده، د ډالر په مقابل کې د افغانۍ میاشتنۍ اوسط ارزښت ۵۷.۲۲ افغانۍ و[2]. د دغو ټاکنو د اوږده پړاو په پای کې دغه اوسط ۵۷.۱ و؛ خو د ملي وحدت حکومت له جوړېدو وروسته د ۲۰۱۴ کال تر پای پورې، د ډالر په مقابل کې د افغانۍ د ارزښت میاشتنی اوسط تقریباً ۵۸.۱۸ شو. د ۲۰۱۵ کال په لومړیو دوو میاشتو کې ببرته د افغانۍ ارزښت د ډالر په مقابل کې ښه شو. په جنوري میاشت کې د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت ۵۷.۷٦ او په فبروری میاشت کې ۵۷.۴ ته راټیټ شو.

د ۲۰۱۵ کال له دغو لومړنیو دوو میاشتو وروسته، د ډالر په مقابل کې افغانۍ خپل ارزښت ورو ورو وبایله او اوس هم مخ په ښکته روان دی. د رواني میاشتې (نوامبر) په وروستۍ اوونۍ کې د یوه ډالر بیه ٦۷.۲۵ افغانیو ته رارسېدلې ده. (وګورئ، الف جدول)

**الف جدول: د ملي وحدت د حکومت له جوړېدو وروسته، د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت (میاشتنی اوسط)**




*ماخذ: د افغانستان مرکزي بانک (http://dab.gov.af/en/DAB/currency) میاشتنۍ ارقام د ټولو ورځو اوسط دی.*

[2] See online: http://dab.gov.af/en/DAB/currency

## د افغانۍ ارزښت ولې کمېږي؟

د افغانۍ د ارزښت په ټیټېدو کې لاندې عوامل رول لري:

**لومړی؛ په نړیوال مارکېټ کې د ډالر ارزښت لوړېدل:** د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ښکته کېدل یوازې تر افغانستان پورې محدود نه دي، بلکې په نړیوال مارکېټ کې هم د نورو نړیوالو اسعارو په مقابل کې د ډالر ارزښت د وروستیو ۴۰ کلونو په پرتله زیات شوی دی. که چېرې یوازې په وروستیو ۱۲ میاشتو کې د یورو په مقابل کې د ډالر ارزښت ته ځیر شو، نو د یورو په مقابل کې هم د ډالر ارزښت زیات شوی دی. د بېلګې په ډول د ۲۰۱۴ کال په ډېسامبر میاشت کې د یوه ډالر ارزښت د یورو په مقابل کې ۰.۸۱ و او اوس یو کال وروسته (د ۲۰۱۵ کال په نوامبر میاشت کې) یو ډالر د ۰.۹۲ یورو په مقابل کې تبادله کېږي[3]. په ورته ډول د نورو اسعارو په مقابل کې هم د ډالر ارزښت زیات شوی دی.

**دویم؛ خراب اقتصادي وضعیت:** د هېواد اوسنی بد اقتصادي وضعیت، چې وزګارتیا پکې د تېرو ۱۴ کلونو په پرتله زیاته شوې، د صادراتو او وارداتو ترمنځ لوی توپیر موجود دی، پانګونه مخ په کمېدو ده، امنیتي وضعیت هم له سختو ننګونو سره مخ دی او د افغانۍ د نرخ ټیټېدو له کبله په هېواد کې د نورو اسعارو لپاره تقاضا هم لوړه شوې؛ ځکه نو دغو لاملونو هم د افغانۍ د نرخ په ټیټوالي اغېزه کړې ده.

**دریم؛ د افغانۍ مصنوعي ارزښت:** په تېرو ۱۴ کلونو کې د افغانۍ ارزښت د هېواد د اقتصادي حالت له کبله لوړ نه و، بلکې د افغانۍ ارزښت تر ډېره مصنوعي بڼه درلوده. هر کله به چې د ډالر په مقابل کې د افغانۍ ارزښت ټیټ شو، نو حکومت به مارکېټ ته ډالر راوایستل او افغانۍ به یې له مارکېټ څخه راټوله کړه. د تقاضا او عرضې د اصولو له کبله به، د افغانۍ له کمېدو او د ډالر له زیاتېدو سره د افغانۍ ارزښت بیا لوړ شو. که څه هم د اسعارو نرخونه تر ډېره د همدې تقاضا او عرضې د اصولو له کبله ټاکل کېږي؛ خو دا بیا تر ډېره د صادراتو او وارداتو په ډګر کې وي.

**څلورم؛ اروپا ته د افغان ځوانانو تګ:** له هغه راهیسې چې افغان ځوانان اروپا ته په قاچاقي لارو روان شوي، له قاچاقبرو سره معامله په ډالرو کوي، چې له یوې خوا یې د ډالرو تقاضا لوړه کړې او له بلې خوا د دغو ډالرو

---

[3] See online: http://www.ozforex.com.au/forex-tools/historical-rate-tools/monthly-average-rates

ډېرې برخه له هېواده هم وځي، چې دا بیا په بل اړخ کې په هېواد کې د ډالرو شتون کموي. له همدې ځایه په هېواد کې د افغانۍ په مقابل کې د ډالرو ارزښت زيات شوی دی.

**پنځم؛ په مارکېټ کې د افغانۍ تقاضا کمېدل:** له دې وړاندې ډېرو افغانانو له بهرنيانو او بهرنيو مؤسساتو سره کارونه کول او په بدل کې به يې تنخواوې په ډالرو ترلاسه کولې. دوی به دغه ډالر مارکېټ ته وړاندې کول او له مارکېټ څخه به يې افغانۍ ترلاسه کولې. دې پروسې، چې د افغانۍ تقاضا پکې شامله وه او ترځنګ به يې افغان حکومت هم د افغانۍ د نرخ لوړولو په موخه کله کله مارکېټ ته ډالر عرضه کول، نو دې چارې به په مارکېټ کې د افغانۍ تقاضا ډېروله او د افغانۍ ارزښت به يې لوړاوه. اوس چې ډېرې ان‌جي‌اوګانې يا تړل شوې او يا يې کارونه کم شوي، نو ورسره په مارکېټ کې د افغانۍ تقاضا هم راکمه شوې ده.

## د پانګونې وضعيت

عموماً په يوه وروسته پاتې اقتصادي ټولنه او په تېره بيا په يوه جګړه‌ځپلي هېواد کې تر ټولو زياته پانګونه په ساختماني کارونو (کور، سړک، دوکان او...)، زراعت، خدماتو او صنعتونو کې کېږي. افغانستان هم له دې قاعدې مستثنا نه و. په وروستيو ۱۴ کلونو کې تر ټولو زياته پانګونه هم په ساختماني کارونو، خدماتو او د صنعتونو په برخه کې شوې ده. د ساختماني کارونو، خدماتو او صنعتونو په سکتورونو کې پانګونه بيا تر ډېره پر امنيت متکي ده. هر څومره چې امنيت ټينګ وي او د امنيت د خرابېدو اټکلونه کم وي، نو په طبيعي ډول په دغو برخو کې پانګونه ډېره کېږي.

له همدې کبله په افغانستان کې د روان کال د ناامنيو له کبله پانګونه هم اغېزمنه شوه. په افغانستان کې له پانګونې څخه د ملاتړ اداري په اند د ۲۰۱۴ کال د لومړيو ۹ مياشتو په پرتله د ۲۰۱۵ کال په لومړيو ۹ مياشتو کې پانګونه ٢٦ سلنه کمه شوې ده. د ۲۰۱۴ کال په لومړيو ۹ مياشتو کې په هېواد کې تقريباً ٦١١ مليون ډالره پانګونه وشوه، چې د ۲۰۱۵ کال په لومړيو ۹مياشتو کې بيا ۴۴۸ مليون ډالرو ته راکمه شوه.

په ساختماني برخه کې پانګونه د ۲۰۱۴ کال له ۲۰۰ مليون ډالرو څخه د ۲۰۱۵ کال په لومړيو ۹ مياشتو کې ۸۳ مليون ډالرو ته راښکته شوې، چې د تېر کال په پرتله ۵۸ سلنه ټيټوالی ښيي. همدا راز د صنعت، زراعت او خدماتو په برخه کې هم پانګونه په ترتيب سره ۲۵، ۱۲ او ٩.٦٣ سلنه کمه شوې ده.

## د پانګونې د کمېدو لاملونه

په روان کال کې د پانګونې د کمېدو لاملونه په لاندې ډول دي:

**لومړی؛ ناامنی:** په ډېری توګه په هېواد کې ناامني هغه لوی عامل دی، چې په افغانستان کې يې لوی خارجي پانګوال له پانګه اچونې منع کړي دي. همدا راز ناامنی هم د داخلي پانګوالو د پانګونې مخه نیولې ده. د آيسا اداري د وروستي راپور له مخې د افغانستان په تر ټولو باامنه سیمه کابل کې سږکال د پانګونې کچه نه یوازې کمه شوې نه ده، بلکې زیاته شوې هم ده. د تېر کال په لومړيو ۹میاشتو کې په کابل کې د پانګونې کچه ۲۴۹ ملیون ډالره وه؛ خو د ۲۰۱۵ کال په لومړیو ۹میاشتو کې ۲۷۳ ملیون ډالرو ته پورته شوې ده[4].

**دويم؛ سياسي بې‌ثباتي:** په روان کال کې د پانګونې پر کچه د ولسمشريزو ټاکنو اوږده پړاو، په ډېر ځنډ د کابينې جوړېدل او د ملي وحدت حکومت خپلمنځي اختلافاتو هم ژوره اغېزه کړې ده.

**دريم؛ اداري فساد او بډې غوښتنه:** اداري فساد او بډې غوښتنه هم يو له هغو عواملو څخه دی، چې په هېواد کې د پانګونې مخه نيسي. اوسمهال هم د هېواد په ځينو رسنيو کې داسې ګنګوسې خپرېږي، چې مخابراتي شرکتونه د خپلو ودانيو د خونديتوب په موخه وسله‌والو ته بډې ورکوي.

**څلورم؛ د برېښنا کمښت:** د برېښنا کمښت هم هغه لامل دی، چې په هېواد کې د صنعتونو د فعاليت په لاره کې خنډ ګرځي. د بيلګې په ډول د برېښنا د نه شتون له کبله د کندهار د صنعتي پارک تقريباً ټولو فابريکو فعاليتونه درولي دي[5].

---

[4] See online: http://www.bbc.com/persian/afghanistan/2015/10/151031_k05_afghanistan_aisa_investment_decreased

[5] See online: http://pa.azadiradio.mobi/a/26957266.html

# افغانستان و وضعیت مبارزه با مواد مخدر



مشکل مواد مخدر یک چالش جهانی است و در جهان کشوری وجود ندارد که از تبعات منفی این پدیدۀ شوم در امان باشد. قاچاق مواد مخدر در کنار بحران هسته‌ای، بحران جمعیت و بحران محیط زیست، چهارمین بحران جهانی است و طبق بعضی از آمارها، تعداد معتادان در سراسر جهان به بیش از 250 میلیون نفر می‌رسد. از آنجا که بیشترین اعتیاد در میان نسل جوان یعنی قوای فعال کشورها دیده می‌شود، تاثیرات منفی اقتصادی آن نیز برای بشریت فاجعه‌بار است.

در افغانستان هرچند آمار دقیقی از میزان معتادان به این مادۀ مرگ‌آفرین وجود ندارد، اما بعضی از آمار حاکی از آن است که در کشور ما نیز بیش از یک ملیون معتاد وجود دارد که بخشی از آن‌ها را زنان تشکیل می‌دهد.

افغانستان در جهان به عنوان بزرگترین تولید کنندۀ مواد مخدر مطرح است و رابطه میان افغانستان و تریاک، به قرن‌ها قبل برمی‌گردد؛ اما در طول سه دهه، این کشور تولید کنندۀ بخش بزرگی از تریاک در جهان بوده است.

## تولید مواد مخدر در افغانستان 2001–2015

دلیل گسترش کشت‌زارهای تریاک در افغانستان به عوامل متعدد رابطه دارد، اما مهمترین آنها را می‌توان چنین فهرست نمود:

1. جنگ و ناامنی طولانی‌مدت در این کشور؛
2. نبود یک حکومت مرکزی قوی و مورد حمایت مردم؛
3. وجود مافیای مواد مخدر، متشکل از مافیای داخلی، منطقوی و بین‌المللی؛
4. وجود تقاضا، به خصوص در کشورهای غربی؛
5. خاک و هوای مناسب برای رشد این گیاه.

خیلی‌ها به این باور اند که حکومت افغانستان در مبارزه علیه مواد مخدر فاقد اراده و تصمیم است، اما در این رابطه نقش مهم‌تر را باید نیروهای خارجی به عهده می‌گرفتند که چنین نکردند و به شکل سوال‌برانگیزی حضور آنان در رشد تولید کوکنار در افغانستان موثر افتاد.

بعد از ورود نیروهای خارجی به افغانستان، تولید مواد مخدر رشدی صعودی داشت که در سال 2007 به حد ریکارد 8200 تن رسید.

**جدول الف: رشد صعودی تولید مواد مخدر**

| سال | 2002 | 2003 | 2004 | 2005 | 2006 | 2007 | 2008 | 2009 |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مقدار تولید تریاک | 2400 تُن | 3600 تُن | 4200 تُن | 4100 تُن | 6100 تُن | 8200 تُن | 7700 تُن | 6900 تُن |

از سال 2010 اراضی کشت کوکنار افزایش یافت، زیرا از این سال نیروهای خارجی از طریق هوا پاشیدن موادی را که به کشت تریاک زیان می‌رسانید روی مزارع کوکنار شدت بخشیدند. طبق آمار وزارت مبارزه با مواد مخدر در سال 2011 تولید تریاک به 5800 تن کاهش یافت. در 2012 ساحۀ کشت کوکنار به 154000 هکتار رسید، اما بازهم به دلیل بیماری‌های گیاهی تولید تریاک به 3700 تن کاهش یافت. کاهش تولید موجب بلند رفتن قیمت تریاک در سطح جهانی شد. دهقانان هم برای اینکه کاهش تولید را جبران کنند، زمین‌های زیر کشت را افزایش دادند که در نتیجه میزان تولید تریاک درسال 2013 مجددا به 5500 تن افزایش یافت.

در سال 2014 میزان اراضی زیر کشت کوکنار به 250 هزار هکتار رسیده و کشت این گیاه در بعضی از ولایت‌هایی که قبلا از بین رفته بود، دوباره از سر گرفته شد که موجب رشد تولید به میزان 6400 تن گردید.

**جدول ب: تولید مواد مخدر از 2011 الی 2015**

| سال | 2011 | 2012 | 2013 | 2014 | 2015 |
|---|---|---|---|---|---|
| مقدار تولید تریاک | 5800 تُن | 3700 تُن | 5500 تُن | 6400 تُن | 3300 تُن |

اما آماری که امسال (2015) به نشر رسیده، امیدوار کننده است. با وجود ناامنی‌های گسترده، هم ساحۀ تحت کشت به میزان 19 درصد کاهش یافته و هم میزان حاصل به دلیل وضع نامساعد هوا و بیماری‌های گیاهی 48 درصد کاهش یافته و به میزان 3300 تن رسیده است؛[6] اما با توجه به تجربۀ گذشته، می‌توان پیشبینی کرد که قیمت تریاک در بازار جهانی افزایش خواهد یافت و سال 2016 بازهم شاهد ازدیاد تولید خواهیم بود.

## نارکو تروریزم (تریاک تروریزم)

بعضی از مقامات امریکایی ادعا کرده‌اند که به این دلیل باید نیروهای خود را در افغانستان نگهدارند، تا از مبدل شدن افغانستان به (نارکو ستیت) یا دولت مواد مخدر جلوگیری شود. امریکا و متحدین این کشور در زمان ورود به افغانستان مدعی بودند که "تروریزم" و مواد مخدر با هم رابطه دارد. از آنجایی که "تروریزم" از عاید به دست آمده از مواد مخدر در افغانستان تغذیه می‌کند، برای از میان بردن "تروریزم" باید مانع تولید مواد مخدر در این کشور شد.

سوال اصلی این است که اگر نیروهای خارجی برای از میان بردن (نارکو تروریزم) به افغانستان آمده بودند، پس چرا در این کار توفیق نیافتند درحالیکه در طول چهارده سال گذشته، بیشترین فعالیت‌های نظامی این نیروها در ولایاتی متمرکز بود که بیشترین تریاک در آن تولید می‌شد؟

هرچند افزایش کشت و قاچاق مواد مخدر در بیش از یک دهۀ گذشته، به عامل خاص منحصر نمی‌گردد؛ بلکه مجموعه‌ای از عوامل و زمینه‌های خارجی و داخلی در آن شریک است؛ ولی مهم‌ترین آن فقدان ارادۀ جدی

---

[6] See online: https://www.unodc.org/documents/crop-monitoring/Afghanistan/Afg_Executive_summary_2015_final.pdf

بین‌المللی و داخلی در مبارزۀ صادقانه با مواد مخدر می‌باشد. یکی از دلایل اساسی آن نفوذ، قدرت و نقش اشخاص و عناصری مربوط به باندهای مافیایی مواد مخدر است. اعترافات برخی از بالاترین مقامات حکومتی و نیز گزارش‌های افشاگرانۀ برخی از رسانه‌های مستقل خارجی شواهد و دلایل متقنی را در این ارتباط ارائه می‌دارند.

جامعۀ بین‌المللی و حکومت افغانستان مدعی اند که میزان افزایش کشت مواد مخدر و قاچاق آن با ناامنی و جنگ در کشور، ارتباط مستقیم دارد و بنابر آمار آنان، ولایات ناامن بیش از سایر ولایات درگیر کشت و قاچاق مواد مخدر می‌باشند. بدون شک این موضوع در گسترش و افزایش کشت و قاچاق مواد مخدر اثرگذار می‌باشد، اما متاسفانه این ادعا به عنوان پوشاندن ناکامی‌ها در روند مبارزه با مواد مخدر به کار گرفته می‌شود. زیرا پس از سال 2002 تا چند سال در بیشتر مناطقی که کوکنار کشت می‌شد، امنیت تامین بود و دلیل افزایش کشت کوکنار این بود که باندهای قاچاق و مافیای مواد مخدر بر خلاف سال‌های قبل از 2001، بسیار سازمان یافته‌تر عمل می‌نمودند.[۷] اگر قبل از سال 2001 دامنۀ فعالیت باندهای قاچاق مواد مخدر محدود بود، در سال‌های پسین این باندها به شبکه‌های مافیایی بین‌المللی و منطقه‌ای وصل شدند.

## خاک مساعد برای کشت گیاه مرگ

طبق آمارهای سازمان مبارزه با مواد مخدر سازمان ملل متحد، در افغانستان از هر هکتار زمین به صورت اوسط 56 کیلوگرام تریاک به دست می‌آید در حالیکه تولید تریاک در مثلث طلایی شامل کشورهای میانمار، تایلند و لائوس در جنوب آسیا، فی هکتار 15 کیلو گرام است.

به گزارش UNODC شاهدانه (دانه‌ای که از آن چرس یا حشیش به دست می‌آید) در کشورهای دیگر هم کشت می‌شود، اما میزان حاصل‌دهی آن در افغانستان شگفت‌آور است. این گیاه در افغانستان در هر هکتار 145 کیلوگرام حاصل می‌دهد، در حالیکه در مراکش از یک هکتار فقط چهل کیلوگرام حاصل به دست می‌آید. به همین دلیل، افغانستان بزرگترین تولید کنندۀ چرس در جهان هم به شمار می‌رود.

از جانب دیگر، مشکلات دهقان در کشت محصولات مجاز مانند گندم و سایر مواد غذایی، موجب می‌شود تا دهقانان به کشت کوکنار روی آورند. بلند بودن قیمت کود کیماوی، ادویۀ ضد آفات زراعتی و غیره، موجب می‌شود تا کشت این محصولات در بسیاری موارد گران تمام شود و عاید حاصل یک هکتار کوکنار چندین برابر عاید گندم باشد.

---

[7] See online: http://dailyafghanistan.com/opinion_detail.php?post_id=127447

## عایدات مواد مخدر در افغانستان

بر طبق گزارش دفتر مبارزه با جرایم و مواد مخدر سازمان ملل متحد (UNODC) از سال 2001 تا 2010 میلادی به ارزش 70 ملیارد دالر مواد مخدر، در افغانستان تولید شده است؛ اما سوال این است که از این پول هنگفت، بهرۀ افغانستان و به خصوص دهقانان چقدر بوده است؟

بر طبق این گزارش UNODC از مجموع 70 ملیارد دالر فقط 2 ملیارد دالر آن، نصیب دهقانان شده و 66 ملیارد دالر آن به جیب قاچاق‌چیان و مافیای بین‌المللی مواد مخدر در خارج از افغانستان رفته است. این اداره معتقد است که از این میزان مبلغ 200 ملیون دالر (سالانه 20 ملیون دالر) به مخالفین مسلح حکومت افغانستان تعلق گرفته است.

## فساد اداری و مبارزه با مواد مخدر

بنا به گزارش بازرس خاص امریکا در افغانستان، در طول چهارده سال گذشته امریکا مبلغ 7 ملیارد و 600 ملیون دالر را صرف مبارزه با مواد مخدر در افغانستان نموده است.[8] اگر این آمار درست باشد، پس به وضاحت دیده می‌شود که امریکا در مبارزه با مواد مخدر در مجموع سه ونیم برابر بیش از عاید دهقانان از کشت کوکنار را هزینه نموده و نتیجه‌ای نیز به دست نیاورده است.

در کشورهایی چون افغانستان که توسط "حکومت‌های ناکام" اداره می‌شوند، مصرف پول در جهت مبارزه با مواد مخدر فقط می‌تواند کمک به مقامات فاسد دولتی باشد و دهقان از آن بهره نمی‌برد. در کمک ادعایی امریکا در کار مبارزه با مواد مخدر نیز مشخص نیست که این پول هنگفت چگونه در مبارزه با مواد مخدر به مصرف رسیده، اما آنچه مشخص است این است که دهقان از آن بهره‌ای نبرده است.

نقش کشورهای مصرف کنندۀ غربی در جهت کاهش مصرف مواد مخدر در کشورهای خودشان می‌تواند نقش مهم در کاهش تقاضا و در نتیجه کاهش تولید در کشورهای تولید کننده داشته باشد. مبارزه فقط در کشور تولید کننده نمی‌تواند به نتیجۀ مطلوب برسد؛ زیرا اگر بنا بر هر دلیلی در تولید کاهش به عمل آید، این کاهش با صعود قیمت در بازار نمایان می‌گردد و مشوقی برای تولید در سال بعد خواهد شد. بنابراین باید در کشورهای مصرف‌کننده نیز مبارزۀ جدی با مصرف مواد مخدر صورت گیرد.

---

[8] See online: https://www.sigar.mil/pdf/Special%20Projects/SIGAR-15-10-SP.pdf

و در نهایت به میان آمدن یک حکومت با کفایت و مسؤول و مسلط بر سراسر افغانستان می‌تواند راه‌حل این مشکل باشد. این کار فقط در صورتی ممکن است که در افغانستان صلح برقرار گردد. بنابراین کاهش تولید مواد مخدر در افغانستان مانند هر برنامه، در انتظار صلح بوده و تا آن زمان افغانستان همچنان در صدر کشورهای تولید کنندهٔ مواد مخدر باقی خواهد ماند.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com - www.csrskabul.net

شمارهٔ تماس دفتر: (+93) 784089590

**ارتباط با مسؤولین:**

دکتور عبدالباقي امین، رئیس مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 789316120 abdulbaqi123@hotmail.com

داکتر وحیدالله مصلح، معاون مرکز مطالعات استراتژیک ومنطقوی: (+93) 747575741 drwahidm@gmail.com

حکمت الله ځلاند، مسؤول تحقیقات و نشرات: (+93) 775454048 hekmat.zaland@gmail.com

**یادآوری:** لطفا نظرات و پیشنهادات خود را جهت بهبود مطالب این نشریه به ما ارسال دارید.